# د افغـــــانستان اســــلامي امــــارت

## د ارشــــاد، حج او اوقــــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۳/ شوال المکرم /۱۴۴۶ هـ، ق موافق د ۲۲/حمل /۱۴۰۴هـ، ش**

**د خپل هيواد د راستنيدونکو کډوالو سره هر ډول خواخوږي او همکاري د حکومت او ملت ګډ مسئوليت دی.**

الحمد لله رب العالمين، ناصر المستضعفين ومجير المستجيرين ومغيث المستغيثين من استغاث به أغاثه وأعانه ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد يحي ويميت وهو على كل شيء قدير، أمر بالتعاون والتناصر والتآزر بين احاد الأمة الاسلامية ، وأشهد أن سيدنا محمد رسول الله (ﷺ) أوصى بإغاثة الملهوفين وتفريج كربة المكروبين وبين أنها السبيل إلى الجنة النعيم، فاللهم صل علي سيدنا محمد وعلي آله وصحبه وسلم أجمعين ،أما بعد:

فقال تعالى: { وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ }.[ المائدة: ۲]

**درنو هيوادوالو او محترمو حاضرينو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

د ځمکې په سر يوازې د اسلام مقدس دين دی چې خپلو پيروانو ته يې امر کړی دی چې د مصيبت زده، غمزده، بيوزلو، محتاجو او اړمنو خلکو سره هر ډول مرسته او کومک وکړي او هغوی په مصيبت او غم ته يوازې پرې نږدي او بيايې د مرسته کوونکو لپاره اجرونه او ثوابونه مقرر کړي دي.

په اسلام کې د مظلوم، مصيبت زده ، غمزده او په سختيو کې د راګير مسلمان سره مرسته کول د عبادت يو ډول دی ؛ ځکه چې ثواب او اجر ور باندې مرتب دی او د الله تعالی اوامر پر ځای کول دي.

په ځانګړې توګه د ضرورت پر وخت مستحقو خلکو سره خواخوږي کول او ورسره همکاري کول هغه سترعالي اخلاق دي چې اسلامي اخوت يې تقاضا کوي او انساني مروءت يې غوښتنه کوي.

**درنو مسلمانانو!**

مونږ او تاسې ټول خبر يو چې نن سبا خپل هيواد افغانستان ته له بيروني هيوادونو څخه دکډوالو د راستنيدو لړۍ پيل شوی ده او خپل هيواد راستنيدونکي کډوال هر ډول خواخوږۍ او همکارۍ ته اړتيا لري؛ ځکه چې کډوال په ډير بد حالت کې وطن ته راستنيږي.

د ګاونډي هیواد څخه کډوال په ډیر جبر او ظلم سره را ویستل کیږي چې له دوی څخه شخصي کورونه او جایدادونه، شخصی دوکانونه، د تجارت له درکه په خلکو باندې پاتې پوروونه، څاروي او حیوانات پاتې کیږي؛ آن تر دې پورې چې دځینو کډوالو څخه د کور ضروري سامانونه او بسترې هم ګرځول کیږي او تش لاسونه په فرضي کرښه را اړول کیږي.

د راستنیدونکو کډوالو مثال د هغو مسافرو دی چې په سفر کې له ځان سره هیڅ توښه نلري او د ژوند کولو لپاره د نورو مرستو ته  سترګې په لار وي.

هیواد ته را ستنیدونکي کډوال ځینې داسې دي چې هیڅ ځمکه او جایداد نلري او که څوک یې لري هغه دومره ځمکه او جایداد نه وي چې ددوی د اوسیدو او د ژوند د ضرورتو لپاره کفایت او بسنه وکړي ؛ ځکه د هجرت په ۴۵ کلنه موده کې د یو فامیل څخه څو  فامیلونو جوړ شوي دي.

وطن ته راستنیدونکي کډوالو څخه هرڅه په میزبان هیواد کې پاتې شوي دي او ځینې کورنۍ داسې حالت لري چې نیمه کورنۍ یې په میزبان هیواد کې پاتې ده او نیمه کورنۍ یې له سرحد څخه راړول شوي ده، چې پرته د ځان د تن له جامو څخه نور هیڅ شی نلري، هیواد ته راستنیدونکو کډوالو کې زنانه، ماشومان ، سپین ږیري او بوډاګان او مریضان شته چې عاجلو مرستو، همکاریو او خواخوږۍ ته اشد ضرورت لري او په کار ده چې مِلت او دولت په شریکه د کډوالو مشکلاتو ته رسیدګي وکړي.

د خپل هیواد د راستنیدونکو کډوالو سره هر ډول خواخوږي او همکاري د حکومت او مِلت ګډ مسئولیت دی.

هیواد ته راستنیدونکي کډوال هم کور ته او سرپناه ته ضرورت لري چې ژوند په کې تیر کړي، هم خوراکي او غذائي توکو ته ضرورت لري، هم بسترو ، کمپلو او د اخلي پخلي لوښو ته ضرورت لري او هم د تن جامو ته ضرورت لري ، د اکثرو روغتیایې او روحي حالت ډیر وخیم وي او علاج او معالجې ته اړتیا لري او دوی عاجلو مرستو ته اړتیا لري .

د راستنیدونکو کډوالو بچې مدرسې او مکتب ته ضرورت لري ترڅو درس ووایې او زده کړې وکړي.راستنیدونکي کډوال دیته ضرورت لري چې کار او کسب وکړي او باید چې د کار  او کسب زمینه ورته برابره کړل شي.

خلاصه دا چې راستنیدونکي کډوال ژوند نوی پیل کوي او دوی هر هغه څه ته ضرورت لري چې د ژوند لپاره اړین وي.

مونږ پر ټولو دولتي او غیر دولتي مؤسسو، خیریه بنسټونو، خَیِّرو مسلمانانو او هیوادوالو باندې غږ کوو چې نن د قربانۍ ورځ ده او د قربانۍ لپاره دې هر هیوادوال راودانګي(فاستبقوا الخیرات) او هر څوک دې د خپل توان په اندازه د راستنیدونکو کډوالو سره خواخوږي او همکاري وکړي.

خپل او خپلوان دې په خپله برخه کې خواخوږي او همکاري ورسره وکړي او په کورونو کې دې ځای ورته ورکړي، هغه خپلوان چې سرمایه ولري د نورو مرستو او همکاریو ترڅنګ دې کډوالو ته د ضرورت پروخت قرض پیسې ورکړي چې هغوی وربانديې کاروبار او کسب روان کړي. د کلي او منطقې خلک دې په خپله برخه کې همکاري او مرسته وکړي مرستې دې راټولې کړي او د کډوالو کورنیو ته وسپاري او د کار او کسب د برابرولو په حصه کې دې ورسره کومک وکړي، دولت دې په خپله برخه کې مرسته او لاس نیوی وکړي ، داخلي خیریه مؤسسات او خارجي مرستندویه مؤسسات او بنسټونه دې په خپله برخه کې مرسته او همکاري وکړي، ډاکټران او شخصي شفاخانې دې دکډوالو کمپونو ته سیار ټیمونه ولیږي؛ ترڅو د ناروغانو علاج وکړي، هغه کسان چې د کرایې لپاره یې کورونه آباد کړي دي هغوی دې په خپله برخه کې مرسته او کومک وکړي او په ارزانه کرایه باندې دې ورته کورونه په کرایه ورکړي.

د کارخانو او فابریکاتو مالکان دې په خپله برخه کې خواخوږي او همکاري وکړي او د کډوالو ځوانانو او کاریگرو ته په خپلو کارخانو او فابریکو کې د کار زمینه مساعده کړي.

که چیرې مونږ خپل ایماني او وجداني وظیفه ترسره کړو ، ان شاء الله چې ددې لوی امتحان څخه به هم په کامیابۍ سره ووځو او د اسلام هغه ستر شعار به مو په رښتیا سره عملي کړی وي چې فرمایې: « الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا ». مسلم (٨/ ٢٠)

ژباړه: یو مؤمن د بل مؤمن لپاره په شان د هغه آبادۍ دی چې مضبوطوي یو بل لره.

خپل هیواد ته د راستنیدونکو کډوالو سره هر ډول خواخوږي او همکاري زمونږ د ټولو ولس اسلامي او ایماني دنده ده.

د راستنیدونکو کډوالو سره همکاري په حقیقت کې د مصیبت زده او غمزده خلکو سره نیکي کول دي؛ چې دا کار په اسلام کې د سترو اعمالو څخه دی؛ ځکه چې په دې کار سره بنده د الله تعالی او دمخلوق دواړو رضا او محبت ترلاسه کوي .

الله جل جلاله مسلمانانو ته امر کړی دی چې د اړمنو او هغو کسانو سره نیکي وکړئ چې په سختیو کې راگیر شوي وي او فرمایلي یې دي:{ وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ }[القصص:٧٧]

ترجمه: او احسان کوه (له بندگانو د الله سره په ورکړه د مال) لکه چې احسان کړی دی الله له تا سره (چې داسې ډېر دولت یې درکړی دی).

په یو بل مبارک آیت کې راځي: {.. وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ}[الحج:٧٧]

ترجمه: او کوئ نېک کارونه (لکه صله رحمي او ښه اخلاق )لپاره د دې چې بری و مومئ (په نعمت او جنت سره).

هیواد ته د راستنیدونکو کډوالو لاس نیوی؛ خواخوږي او همکاري زمونږ د ملت او دولت گډ مسئولیت دی.

د یو حدیث مفهوم دی چې په اسلام کې ټول مسلمانان د یو جسد حیثیت لري ، کله چې یو کس ته درد ورسیږي باید د ټولنې ټول وگړي ورباندې وردردیږي. د نورو ټولنو په مقابل کې داسلامي ټولنې خصوصیت او ځانگړتیا داده چې د اسلامي ټولنې افراد به شهامت، ایثار او قرباني ولري او د محتاجو ، اړمنو او متضررینو خلکو لاس نیوی به کوي او یو مسلمان به د بل مسلمان په سختۍ کې ځان شریک بولي، چې ددې خصوصیت له برکته د اسلامي ټولنې د خلکو په منځ کې مینه او محبت او د زړونو نږدیوالی رامنځ ته کیږي.

قرآن کریم اسلامي ټولنه داسې انځور او تصویر کړی ده :{ وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} [الحشر: ٩]

ترجمه: له هغه شي څخه چې ور کړی شوي وي (مهاجرانو لره)، او غوره کوي (مهاجران) مقدموي یې پر خپلو ځانونو او اگر که وي پر دوی باندې تنگي. او هر هغه څوک چې و ساتلی شي له بخل د نفس د ده نه؛ نو همدغه کسان دي همدوی مراد موندونکي په مراد رسیدلي.

هیواد ته د راستنیدونکو کډوالو سره خواخوږي ، مرسته او همکاري کول د هغوی د حاجت پوره کول دي او د هغه څخه ددنیا سختي لری کول دي چې دا کار په اسلام کې لوی فضیلت لري. په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:« وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ القِيَامَةِ » صحیح البخاري (٣/ ١٢٨)

ژباړه: څوک چې د مسلمان ورور په حاجت کې وي الله تعالی به دده حاجتونه پوره کړي او چاچې د یو مسلمان څخه یوه سختي لری کړه الله تعالی به دده څخه د قیامت سختیانې لری کړي.

خپل هیواد ته راستیدونکو کډوالو حالت د هغه چا په شان دی چې په لوی مصیبت او غم کې لویدلی وي او د خلکو څخه مرسته او کومک غواړي ترڅو له دغه غمجن حالت څخه ووځي. بناء مونږ ته په کار دي چې دداسې خلکو لاس نیوی وکړو او له سختیو څخه ورته نجات ورکړو چې دا کار هم داسلام له نظره صدقه ده چې اجر او ثواب لري.

په هر مسلمان باندې صدقه کول لازم دي چې په سختیو کې پروت مسلمانه ته لاس ورکړي او په سختیو کې مبتلاء انسان سره همکاري هم صدقه ده.

نبي علیه السلام فرمایلي دي: عن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه قال: قال رسول الله (ﷺ): «على كلِّ مُسلِمٍ صدقَةٌ ، فَقَالُوا : يَا رسول اللَّهِ ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ ؟ قَالَ : يَعْمَلُ بِيَدِهِ ، فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ ، قَالُوا : فَإِنْ لَمْ يَجِدْ ؟ قَالَ : يُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ، ».[ أخرجه البخاري]

ژباړه: د ابو موسی اشعری رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په هر مسلمان صدقه لازم ده(ندباً أو مؤكدا) . صحابه کرامو وویل: ای دالله رسوله ! که چیرې څه ورسره نه وي چې صدقه یې کړي؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: په لاس باندې دې کار او کسب وکړي ،ځان ته به هم نفع ورسوي او صدقه به هم ور څخه ورکړي. صحابه کرامو عرض وکړ ای د الله رسوله! که چیرې کار ورته نه پیداکیږي؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: نو مرسته دې وکړي محتاج سره چې مصیبت او سختی ورته رسیدلي وی.

د ابن حبان په روایت کې راځي: «إِنَّ أَبْوَابَ الْخَيْرِ لَكَثِيرَةٌ: التَّسْبِيحُ، وَالتَّحْمِيدُ، وَالتَّكْبِيرُ، وَالتَّهْلِيلُ، وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ، وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَتُمِيطُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَتُسْمِعُ الْأَصَمَّ، وَتَهْدِي الْأَعْمَى، وَتُدِلُّ الْمُسْتَدِلَّ عَلَى حَاجَتِهِ، وَتَسْعَى بِشِدَّةِ سَاقَيْكَ مَعَ اللَّهْفَانِ الْمُسْتَغِيثِ، وَتَحْمِلُ بِشِدَّةِ ذِرَاعَيْكَ مَعَ الضَّعِيفِ، فَهَذَا كُلُّهُ صَدَقَةٌ مِنْكَ عَلَى نَفْسِكَ» . صحيح ابن حبان - محققا (٨ /١٧١)

ژباړه: بیشکه د خیر دروازې زیاتې دي: تسبیح ویل دي: تحمید ویل دي، تکبیر ویل دي، تهلیل ویل دي، به نیکئ امر کول او له بدیو منع کوي دي، ضرري شیان د لارې څخه لری کول دي، او داچې کوڼ ته آواز واوروي او ړوند ته لار وښایې او حاجت مند ته د هغه د حاجت په اړه لاره وښایې او داچې کوښښ وکړئ د خپلو پنډیو په راپورته کولو سره په سختیو کې پروت شخص چې کومک غوښتونکی وي (یعنې مرسته ورسره وکړی) او داچې پورته کړی په پډ وهلو د مټو سره له کمزوري سره( د هغه ضرورت)دا ټوله صدقه ده ستا له خوا په خپل ځان باندې.

زمونږ سفلو صحابه کرامو، تابعینو او تبع تابعینو ... به ځانونه د نورو مسلمانانو په سختو او تکلیفونو کې شریک ګڼلو.

**واقعه:** کله چې د هجرت په (١٨) کال کې د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په دوران کې په مدینه منوره کې قحطي راغله او خلک وږي شول او فصلونه وچ شو او ځاروي هم خوار شول د ولږې له امله.

کله چې حضرت عمر رضي الله عنه ولیدل چې مسلمانان ورونه یې په ولږه کې دي او په مدینه منوره کې څوک خندا نکوي او په کورونو کې مجلسونه خاموشه شول ؛ نو حضرت عمر رضي الله په ځان باندې د غوړو خوراک بند کړ او د ولږې د لاسه یې رنګ زیړ شو ، جسم یې خوار او ډنګر شو.

حافظ ابن كثير ليكلي دي: (وكان عمر يضرب بطنه عام الرمادة ويقول قرقرا ولا تقرقرا والله لا ذاق عمر سمنا ولا سمينا حتى يخصب الناس). البداية والنهاية (١٣ /٢٩)

حضرت عمر رضي الله عنه به خپله خېټه په عام الرماده کې وهله او ورته به يې ويلې: چې ته قر قر کوي او که قرقر نه کوې، قسم په الله تعالى چې عمر به ونه څکي غوړي او نه غوړ هډوکی تر هغې پورې چې په ښېرازی کې شي خلک.

د هغه خادم وايې چې که چيرې الله تعالى دا مصيبت لرى نکړي ؛ نو د مسلمانانو د غم له لاسه به حضرت عمر رضي الله مړ شي.

يوه ورځ چا ورته وويل چې د مديني منورې څخه بيرون يو څه خلک دومره په سختى دي چې دښار خلک په هغه اندازه په سختى کې نه دي. حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دوه انډي د اوړو څخه ډک کړل او خپل غلام (اسلمَ) ته يې وويل چې يوه موشک (غړکی) تيل هم درسره راوړه او حضرت عمر رضي الله عنه په تيزى سره ځان د هغو محتاجو خلکو خوا ته ورسولو او د هغوى په حالت يې زړه زيات خپه شو . په خپله يې اوړه په کټوه کې واچول اوپه خپله يې اور ورپسې بل کړ او اور ته يې په خپله پوکی ورکولو تر دې پورې چې لوګی يې له سپينې ږيرې څخه بيرون راووتلو او هغو خلکو ته يې خوراک پوخ کړ او پر هغوى يې وويشلو تر هغې چې هغوى ماړه شول او بيا يې له ځانه سره د مديني منورې داخل ته راوستل ترڅو د هغوى له حاله هر وخت خبر وي.

په سختيو کې د راګيرو خلکو او هيواد ته راستانه شوو کډوالو سره خواخوږي او همکاري د صحيح ايمان او سالمې عقيدې ترجماني کوي. الله تعالى فرمايلي دي:{لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَـكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَالْمَلآئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّآئِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُواْ وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاء والضَّرَّاء وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَـئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَـئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ} [البقرة:١٧٧]

ترجمه:نه ده نيکي (يواځې دا کار) چې و ګرځوئ مخونه خپل (په لمانځه کې) طرف د مشرق يا مغرب ته. و ليکن غوره نيکي (نيکي) د هغه چا ده چې ايمان يې راوړى وي په پاک الله او (ايمان يې راوړى وي) په ورځ آخري، او په (ټولو) پرښتو، او په (ټولو)کتابو، او (ايمان يې راوړى وي) په (واړو) انبياوو، او ورکوي (خپل) مال سره د محبت د مال نه (فقيرانو) خپلوانو ته ، او (ورکوي) خپل مال (فقيرانو) يتيمانو ته او مسکينانو ته، او (ورکوي خپل مال) مسافرانو ته او نادارو سوالګرو ته، او آزادولو (د مريو) کې، او سم دروي (په ترتيب ادا کوي سره له ټول حقوقو) لمونځ (خپل)، او ورکوي زکات، او (بل خاوند د نېکى) وفا کوونکى دى په وعدو خپلو کله چې دوى وعده کوي (له خالق يا له مخلوق سره)، او (صفت کوو د) صبر کوونکو په سختيو او په رنځونو کې او په وخت د جنګ (په لاره د پاک الله) کې.

په سختيو کې د راګيرو خلکو او هيواد ته د راستانه شوو کډوالو مرسته او همکاري او د هغوى حاجتونه پوره کول د قوي ايمان، ريښتينې تقوى او د ريښتينې ورورګلوۍ دليل دى.

سختيو کې د راګيرو خلکو او هيواد ته د راستانه شوو کډوالو سره مرسته او همکاري کول د آخرت لپاره توښه ده، د هغې ورځې لپاره توښه ده چې نه به مال فائده رسوي او نه اولادونه ؛ مګر يواځې نيک عمل به ګټه او فائده رسوي. الله تعالى فرمايلي دي: {وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُواْ لأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللّهِ إِنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ}[البقرة:١١٠]

ترجمه:او سم دروئ (ادا کوئ له ټولو حقوقو سره) لمونځ، او ورکوئ زکات، او هغه شی چې مخکې ليږئ لپاره د ځانو خپلو له نيکى (لکه صله رحمي، او صدقه) و به مومئ (ثواب د) هغه په نزد د الله، بېشکه الله په هغه شي چې کوئ يې تاسې ښه ليدونکى دى (نو نه ضايع کيږي اعمال ستاسې، او جزا يې در کوي).

په سختیو کې د راګیرو خلکو سره او هیواد ته د راستانه شوو کډوالو سره مرسته او همکاري کول او د هغوی حاجتونه پوره کول له اعتکاف څخه غوره دی. په یو روایت کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ؟ وَأَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَحَبُّ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ، وَأَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللَّهِ سُرُورٍ تُدْخِلُهُ عَلَى مُسْلِمٍ، أَوْ تَكْشِفُ عَنْهُ كُرْبَةً، أَوْ تَقْضِي عَنْهُ دِينًا، أَوْ تُطْرَدُ عَنْهُ جُوعًا، وَلِأَنْ أَمْشِيَ مَعَ أَخٍ لِي فِي حَاجَةٍ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَعْتَكِفَ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ، يَعْنِي مَسْجِدَ الْمَدِينَةِ، شَهْرًا» قضاء الحوائج لابن أبی الدنیا بسند حسن (ص: ٤٧)، المعجم الأوسط (٦/ ١٣٩)

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې یو سړی نبي علیه السلام ته راغی او ورته یې وویل: ای د الله رسوله! له خلکو څخه څوک ډیر محبوب دی الله تعالی ته؟ او کوم عمل ډیر خوښ دی الله عزوجل ته؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: غوره د خلکو نه الله تعالی ته ، هغه زیات نفع رسوونکی دی خلکو ته او له خلکو څخه څوک ډیر محبوب دی دالله تعالی ته؟ او کوم عمل ډیر خوښ دی الله عزوجل ته؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: غوره د خلکو نه الله تعالی ته ، هغه زیات نفع رسوونکی دی خلکو ته او غوره عمل الله تعالی ته هغه خوشحالي ده چې ته یې مسلمان ته ورکوي او یا داچې له هغه څخه سختي لری کړی او یا داچې د هغه څخه د هغه قرض اداء کړی او یا داچې له هغه څخه ولږه لری کړی . او خامخا داچې زه لاړ شم د خپل ورور سره په یو حاجت کې دا ماته ډیر غوره دی ددینه چې زه اعتکاف وکړم په دغه مسجد کې یعنې مسجد نبوي کې یوه میاشت.

په سختیو کې د راګیرو خلکو او هیواد ته د راستانه شوو کډوالو سره مرسته او همکاري کول، د نعمتونو د دوام سبب دی او دوی به په آخرت کې په امن کې وي.

په یو روایت کې راځي: عن ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (ﷺ): «إِنَّ لِلَّهِ قَوْمًا يَخْتَصُّهُمْ بِالنِّعَمِ لِمَنَافِعِ الْعِبَادِ، وَيُقِرُّهَا فِيهِمْ مَا بَذَلُوهَا، فَإِذَا مَنَعُوهَا نَزَعَهَا مِنْهُمْ فَحَوَّلَهَا إِلَى غَيْرِهِمْ».قال المنذری: رواه ابن أبي الدنيا والطبراني في الكبير والأوسط ولو قيل بتحسين سنده لكان ممكنا .[الترغيب والترهيب: ٣ /٢٦٣]

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه د الله تعالی داسې قوم دی چې هغه ته خصوصیت ورکوي په نعمتونو باندې، د الله د بندګانو د ښیګنو په خاطر او هغه نعمتونه په هغوی کې پاتې ساتي تر هغې پورې چې هغوی یې خرچ کوي، کله چې هغوی هغه نعمتونه د خرچ کولو څخه منع کړي ؛ نو الله تعالی ورڅخه هغه نعمتونه واخلي او نورو ته یې ورکړي.

په یو بل روایت کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ لِلَّهِ عِبَادًا خَلَقَهُمْ لِحَوَائِجِ النَّاسِ يَفْزَعُ النَّاسُ إِلَيْهِمْ فِي حَوَائِجِهِمْ، أُولَئِكَ الْآمِنُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». معجم ابن عساكر (٢ /٧٩٣)، مسند الشهاب القضاعي (٢ /١١٧)

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه د الله تعالی ځینې بندګان دي ، الله تعالی د خلکو د حاجتونو لپاره پیدا کړي دي، خلک رجوع کوي دوی ته د خپلو حاجتونو کې ، دا خلک په امن کې د قیامت په ورځ.

په سختیو کې د راګیرو خلکو او هیواد ته د راستانه شوو کډوالو سره مرسته او همکاري کول د کډوالو د محبت او د هغوی ددعاګانو سبب ګرځي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « ...وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفًا فَكَافِئُوهُ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُونَهُ فَادْعُوا لَهُ ». سنن أبى داود-ن (٢ /٥٢)

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايې چې نبي عليه السلام وفرمايل: ... او چاچې له تاسو سره نيکي وکړه، نو د هغې عوض ورکړئ (يعنې تاسې هم ورسره نيکي وکړې) که چيرې تاسې داسې څه بو مومی چې په هغې سره د هغې عوض ورکړی؛ نو هغه ته دعاء وکړئ.

نيکي او مرسته کول د خلکو په منځ کې خوښي او خوشحالي خپروي او زړونه سره نږدې کوي او د نفسونو څخه کينه لرې کوي .

په سختيو کې د راګيرو خلکو سره مرسته، خواخوږي او همکاري د پيغمبرانو سُنت او سلوک دی.

د عالي شهامت او همت خاوندان چې کله کوم مظلوم، حاجتمند او د مرستې مستحق ويني ځان ته ددې اجازه نه ورکوي چې له مرستې کولو وروسته شي او سترګې ور باندې پټې کړي ؛ بلکې محتاج ته فوراً د همکارۍ او مرستې لاس ورکوي.

موسى عليه السلام چې کله وليدل چې د شعيب عليه السلام لوڼه جدا ولاړې دي او خپل مالونه رامنع کوي او نور خلک لګيا دي خپل مالونه او څاروي اوبه کوي. موسى عليه السلام ته چې کله ددغو پيغلو کمزورى حالت ښکاره شو سمدستي يې ورڅخه پوښتنه وکړه چې تاسې ولې خپل مالونه نه اوبه کوئ؟ هغوی ورته وويل: {وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ(٢٣) فَسَقَى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّى إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ}[ القصص: ٢٤]

ترجمه: او کله چې ورسېد (موسى) اوبو د مدين ته؛ نو ويې موندله په هغه (کوهي) يوه ډله له خلقو چې اوبه يې ور کولی (مواشيو خپلو ته)، او ويې موندلې را بيرته له دوی څخه دوه ښځې چې را منع کولې به يې ګډې خپلې (له اوبو نه)، نو وويل (موسى دغو ښځو ته) چې څه دی حال ستاسې (چې منع کوئ له اوبو ګډې خپلې)؟ وويل هغو (دواړو) چې: اوبه نه ورکوو مونږ (ګډو خپلو ته) څو بيرته لاړ شي (دغه) شپانه، او پلار زمونږ زوړ (د ډيرو کلونو سړی) دی (چې کار يې له لاسه نه کيږي). پس اوبه کړه (موسى رمه) د دغو دواړو بيا يې شا و ګرزوله (ښځو ته او لاړ شو) سيوري ته، نو ويې ويل: ای ربه زما! بېشکه زه هر هغه څيز ته چې ولېږې ته ماته له خيره فقير (محتاج) يم.

**اقول قولي هذا، استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**وفقكم الله لما يحبه ويرضاه.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**